


# افغان آپډیټ

افغان آپډیټ- سلواغه ۱۳۸۸ کال، ۲۳ گڼه

Ketabton.com

د افغانستان د تاریخ سپړل


د افغانستان د فرهنگی میراث په وړاندی ننگونی

قاچاق بس دی: د تاریخ د لوټولو په وړاندی جگړه

د افغانستان لاري په تیر او راتلونکی کی

د ملگرو ملتونو د مرستي د پلاوي د خپرو نو خپرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# افغان آپډیټ

سلواغه ۱۳۸۸ کال، ۲۲ ګڼه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په افغانستان کې کلتوري سکتور او په وړاندې یې ننګونې

د برینډان کاسار لیکنه

د افغانستان تاریخ او لرغون پېژندنه د پالاایلیتک د ساحو څخه هم ۴۰ زره کاله اوږي چیرې چې د ډبرو د سامان آلاتو د لومړی بشري مېشتیدنې د ژوند نمونې/ نښې نښانې د ژېړو او اوسپنې د دورو له لارې په افغانستان کې څرګندې کړي او چیرې چې تمدن/مدنیت له کندهاره تر بلخه په غوړیدو وه او بیا اسلامي دورې ته چېرې چې غزنی، غور او هرات هم د کلتور او مدنیت په مرکزونو بدل شول، وغزید. یو شمیر زیاتې سترې نظرې هم په افغانستان کې رامنځ ته او تشکیل شوې، او د سیمې په خلکو او تاریخ او په بلخ کې د زردشت د پیل او د یونانیزم د خپریدو، د بودیزم د انکشاف او د اسلام د خپریدو او اسلامي هنر، خلکو، غرونو، لرغون پېژندنې ساحو او ادبیاتو باندې نه ورکیدونکې نښې نښانې پر ځای پریښودې چې دا ټول د خورا بډایه کلتوري میراث د څو اړخیزو طبقو شاهدې کوي.

دا تاریخي تنوع د دې هیواد په معاصر کلتور او ژبو کې هم منعکسه شوې چې په مساوي توګه د هیواد د شعر، ادبیاتو، هنر، موسیقي، نڅا او د هنر او معماري د عنعنوي بڼو له طریقه بیان شوې چې د پیړیو په جریان کې له یوه نسل څخه بل نسل ته د سوچه مهارتونو، علم او نظریو انتقال په ډاګه کوي. دغه ټول شیان د هیواد د ودانولو لپاره د شتمنې حیثیت لري او دغو ټولو شیانو د ملت د کلتوري او اقتصادي انکشاف په برخه کې ونډه درلوده. په معاصر افغانستان کې دغه نه لمس کیدونکی میراث لکه څنګه چې یونسکو ورته اشاره کوي، پوهه، مهارتونه او عنعنات د سولې او دوه اړخیزه تفاهم د خبرو اترو لپاره او د هیواد د پرمختګ لپاره یو ثابت بنسټ جوړوي.

په افغانستان کې د کلتوري سکتور لپاره د یونسکو ماموریت د افغانستان د خلکو او چارواکو څخه ملاتړ کوي څو د راتلونکو نسلونو لپاره د پېژندنې او تاریخ او همدارنګه د سولې او پایداره انکشاف د فرهنګ د رامنځ ته کولو لپاره د یوه پلاټ فورم په حیث د افغان بډایه کلتور ساتنه وکړي.

برسیره پردې، په افغانستان کې د کتلور سکتور د ګمارلو او عایدات موندلو لپاره لکه د سیمې د نورو هیوادونو په څیر د کلتوري تولیداتو د مشروع صادرولو او د کلتوري صنعتونو لکه عنعنوي کلتوری تولیداتو، مهارتونو او د ابتدایی فلمي صنعت لپاره ښه پوتانسیل لري. د افغانستان ګاوندي هیوادونو هم د هغه کلتوري توریزم کوم چې د ابریشم د لارې په اوږدو کې د چین او پخواني شوروی اتحاد په جمهوریتونو او همدارنګه د کلتوري او نوښتي تولیداتو او صادرولو څخه ترسره کیږي، ګټه پورته کړې.

په افغانستان کې د سولې او بیا رغونې د پروسې په هکله د کلتوري تمرکز ګټې هم روښانه دي. معلومه ده که چیرې په افغانستان کې د سولې فرهنګ ته وده ورکړل شي نو باید هغه د کلتوري تنوع به مفکورو او همدارنګه د ګډ ملي هویت چې د خپلې پیچلتیا په دننه کې تنوع پیژني، ځای ورکړل شي. د انکشاف په اړه کلتوري تګلاره هم د سولې د پیاوړتیا او د ګډ ملي هویت د رامنځ ته کولو له لارې د شخړو څخه د بهبود حالت ته ځواب وایي او همدارنګه د متاثره شویو ډلو سره د هغوي د کلتوري هویتونو د بیا څرګندولو او ادعا کولو په برخه کې مرسته کوي څو د یوه نورمال حالت د رامنځ ته کیدو لپاره لار هواره کړي او همدارنګه پخواني مخالفي ډلې سره یو ځای کړي. نو پدې اړه په افغانستان کې د پایدارې سولې د تامین لپاره د کلتور لپاره ستر او روښانه نقش ته اړتیا لیدل کیږي.




(c) ketabton.com: The Digital Library



د سولې او تنوع دغه بحث باید د افغاني میراث ټولو اړخونو او صنعتونو، موزیمونو د بیا رغونې، د هنري اثارو د خونو، تیاترونو او په عمومي توګه د ډله یزه رسنیو او همدارنګه د عنعنوي معماري او طراحی لپاره چې وکولای شي ځایي پایداره صنعتونه رامنځ ته کړي د ملاتړ له طریقه روښانه او عیني پایلې برابرې کړي. حتي په افغانستان کې د بیا رغونې په دغه ستونزمن حالت او داسې یوه سکتور کې چې کمې سرچینې او تمویل کوونکې لري، خو بیا هم کلتوري صنعت د افغانستان لپاره د نړیوالو نندارتونونو د دایرولو د هیواد د شتمنیو د ننداري او پېژندلو له طریقه او همدارنګه د لاسي صنایعو د مشروع سوداګرۍ له لارې په میلیونو ډالره عایدات تر لاسه کوي.
برسیره پر دې، د داسې نړیوالو نندارتونونو د ملي ویاړ ګټې په ښکاره ډول مثبتې دي او کیدای شي د نړیوالې ټولنې په مرسته د دې سکتور ملاتړ د عینې هڅو له لارې لا هم پرمخ ولاړ شي.

سره له دې، په اوس حال کې هم په افغانستان کې د کلتوري انکشاف لپاره پوتانسیل کمزوری دی. د افغانستان کلتوري میراث په تیرو وختونو کې د نه تصور وړ زغم ګاللی دی، خو لا اوس هم د تخریب، غارت او د جګړې د کلونو په ترڅ کې د بې پروایي، کورنیو جګړو او په اوس حال کې د یاغیتوب په معرض کې واقع شوی دی. د یو شمیر ښو هڅو برسیره، ځینې یادګاري ځلی د یونسکو او افغان چارواکو لخوا د نړۍ د اهمیت د ځرنګوالی په حیث پېژندل شوي، خو دا یا له منځه تللی یا د سرچینو او ماهرانو او د رسمي پالنې او بېړنیو تدارکاتو او ساتندویه تدبیریونو د نه شتون له امله د نړیدو د خطر په معرض کې وافع دی، ځینې ساحې د روانې شخړې له وجې د نه لاس رسي وړ دي، نورې سیمې بیا د هغوی د غرنی موقیعت له امله د تجرید سره مخامخ شوی او د پالنې د مداخلتي او د حقوقي ساتنې فرصتونو د کمښت سره مخامخ کوي. د عمومي وکالت ترځنګ، یونسکو د جام، هرات، بامیانو او غزنی د ځلو په هکله د ساتنې او مستقیمو مداخلتونو په برخه کې فعاله ده، خو په ځانګړی توګه د هغو ولایتونو په هکله چې همدا اوس د شخړو له امله د نه لاس رسي وړ دی، زیات کار او هڅو ته اړتیا لیدله کیږي.

په داسې حال کې چې د اوسنی امنیتي وضیعت له امله په هیواد کې د لرغون پېژندنې د یو شمیر مهمو سیمو ځخه لیدنه یو ستونزمن کار دی خو دا د یوې غیر رسمي سروې/ارزونې ځخه ځرګندیږی چې یو شمیر سیمې د چور او کلتوري شتمنی د نا قانونه قاچاق په معرض کې واقع دي. د تاریخي او کلتوري شتمنیو د ساتنې په هکله د افغان چارواکو لخوا د ۲۰۰۴ کال د منع کولو سربیره، ناقانونه توکي- هغه توکي چې په قانوني لحاظ یې اصل نه وی تشخیص شوی، په ښکاره توګه ذخیره، اخیستل او خرڅ شویدی. د کلتوري شتمنی د ناقانونه صادراتو، وارداتو او مالکیت د انتقال د مخنیوي د لارو چارو په هکله د یونسکو د ۱۹۷۰ کال کنوانیسیون د صادراتو/وارداتو د مقررو په وضع کولو کوم چې افغانستان په ۲۰۰۵ کې لاسلیک کړی، هم ټینګار کوي. د کمو سرچینو د موجودیت له امله وضیعت ښه ندی او چارواکی نشي کولای د افغانستان د اوږدو پولو په مسیر کې قاچاق کنترول او یا د هیواد په کچه د لرغون پېژندنې د ساحو ځخه لږ تر لږه نظارت ترسره کړي.



د دې ستونزې بل اړخ دا دی چې د زیات اهمیت یو شمیر ساحې لا هم نامعلومې پاتې دي خو کلیوالو او لوټمارانو ته چې د خپلو شخصي ګټو لپاره چې دغه سیمی تر هدف لاندې نیسي، معلومې دي. نیستی، کلیوالی انزوا، په مشروع صنعت کې د فرصتونو نه شتون او د کلتوري میراث د بالقوه ارزښت په هکله د پوهاوي کموالی او همدارنګه په راتلونکی کې د پایداره کلتوري انکشاف د بالقوه نقش او د لرغونو ساحو د ویراني لپاره لار هواره وي. د دې حلقې وروستی اړیکه د هغو کسانو واردات او صادرات دی کوم چې دغه توکي په ناقانونه توګه اروپا، شمالي امریکا، او شرقي اسیا ته قاچاق کوي او نړۍ د دې مهمې سیمې او هیواد نه تجدید کیدونکی مهمې سرچینې د تاریخي درک ځخه محروموي.

د افغان ښارونو معماري او د کلیو سبک هم د شخړو او نامتوازن پرمختګ له امله له ګواښ سره مخامخ دی. د افغان او نړیوالې ټولنې اکثریت د ورته نا سم تصور ښکار شوې دی چې ګویا نوی کار همیشه ښه وي او د عنعنوي تعمیرونو مواد او ډیزان باید هرومرو په کانکریټي، اوسپنیزو او عصري موادو تبدیل شي. دا نه یوازې، بلکه د هرات، کابل، بلخ او د هیواد په یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمیر نورو ولایتونو کې تاریخي مرکزونه هم په بشپړه توګه د انکشاف په نوم په خاصو ساحو کې د نوی انکشاف لپاره د زون بندي د هر ډول تصور څخه پرته یا په نورو سیمو کې د تاریخي ښاري معماري د ساتلو په برخه کې له پامه غورځولې. په آسیا کې یو شمیر نورو هیوادونو لکه دوبی او سینګاپور دا خبره چې د معماري عنعنوي بڼې عصري عناصرونه او تکنالوژۍ سره متحد کوي ډیره ناوخته درک کړه او دا دواړه د یوه مثبت ملي هویت او د لا زیات متنوع د اقتصاد انکشاف د ډولونو لپاره هڅونکې دی.

د افغان کلتوري میراث او ادارو بیا رغونه یوه ستره ننګونه ده، او د دې لپاره د نړیوال او داخلي ملاتړ په لار اچول د پام وړ اهمیت لري. که چیرې موږ د افغانستان د تاریخ په دغه ستوزمن او بحراني حالت کې کوم اقدام و نه کړو نو بیا به هیواد نور هم په شاتګ وکړي. د یوه ګډ ملي هویت د ودې څخه د ګټو موخې د نژادي او مذهبي تقسیم کولو څخه خورا تیرېږي او سوله او خپل منځي کلتوري دیالوګ په خپل ذات کې د اهمیت درلودونکی دی خو په کتلوري او تخلیقي صنعتونو کې د کاري فرصتونو د رامنځ ته کولو له طریقه د اقتصادي ودې ګټې د نړۍ په کچه نږدې ۳ تریلیونه امریکایي ډالره کیږي او نشي کیدای د راتلونکی لپاره د پایداره توریزم انکشاف له پامه وغورځول شي. یو څوک یوازې باید د ویتنام او کمبوډیا هیوادونو ته چې د ۱۹۶۰ کلونو راهیسې د سختې نیستي سره مخامخ دي، نظر واچوي، اوس مهال دواړه هیوادونه د نړیوال کتلوری توریزم او د کلتوري تولیداتو د صادرولو څخه په میلیاردونو ډالره تر لاسه کوي. د افغانستان ستر ګاونډي هیوادونه، هند او چین نه یوازې د کتلور، ستر صادرونکی هیوادونه بلکه ستر مصرف کوونکي هیوادونه هم دي او افغانستان باید دا فرصت له لاسه ور نه کړي او په وینا بنو وختونو ته انتظار وباسي.

د ۲۰۰۱ راهیسې، افغان حکومت د یونسکو په ملاتړ د عتیقه توکو د نا قانونه قاچاق د مخنیوی په اړوند د یو شمیر میثاقونو د منلو له لارې (په ۱۹۷۰ کې یونسکو او په ۱۹۹۵ کې UNIDROIT) او د نه لمس وړ میراث او کلتوري تنوع د ساتنې لپاره (یونسکو ۲۰۰۳ او ۲۰۰۵) او د حقوقي ښه والي لپاره یو شمیر تدبیرونه نیولی دي. په ۲۰۰۴ کال کې ملي قانون هم پیاوړي شو څو د ۱۹۷۰ کال د نړیوال میراث د میثاقونو په پلې کولو کې مرسته وکړي. د افغان میراث د ساتلو څخه سربیره، د نړیوالې ټولنې د زیات ملاتړ او افغان حکومت له اړخه د ښې همغږۍ له لارې کیدای شي دغه نړیوال حقوقي میکانیزمونه برابر شي چې په مرسته به یې د افغانستان لپاره مرستې تر هدف لاندې ونیولې شي، او د ګډ ملی هویت او پایداره ځایې صنعتونو پر بنسټ ولاړ کاري فرصتونه رامنځ ته کړي.

په مختصر ډول، د کتلوري تنوع وده او په خاص ډول د کلتوري میراث ساتنه، د هغه په محسوسه بڼو کې، (د بیلګې په توګه تاریخی ځلی، د لرغون پیژندنې سیمې او د موزیمونو شته اثار) او همدارنګه په محسوسه بڼو کې (لکه شفاهي عنعنات، عنعنوي موسیقی او ژبی) کیدای شي د دوه اړخیزه درک د بیا اعادې کولو لپاره د مهمو ټکو په حیث وکارول شي. د ګډ تاریخ او کلتوري عنعناتو د شتون پر سر د تاکید له لارې او د دې په درک کولو سره چې ټولنه د کومه ځایه څخه راغلې او بیا په راتلونکی کې چیرته ځي، کلتور د ملي هویت د ودې په برخه کې یومهم رول لوبولای شي. دا همدارنګه د نژادي تنوع او د کتلوري ویاړ د یوې سرچینې په حیث د هغوي د ګټو په اړه، ملي هویت، سولې د تامین او همدارنګه د افغان وګړو د اقتصادي پیاوړتیا په هکله مثبتو خبرواتروته لار هواره کړي. دغه ټول لاملونه په ملي پالیسیګانو او نړیوالو پراختیایي پروژو کې د کلتور مسلې ته د مسیر ورکولو په موخه ځای شوی او همدارنګه ولې دا ضروري ده چې په هیواد کې په ټولو سکټورونو کې د کلتوري پراختیا په نمونه کې د فعالیتونو غځولو ته دوام ورکول کیږي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



# په افغانستان کې د قيمتي جنسونو د قاچاق ورونکو په وړاندې لړۍ برياوې

اديتيا مهتا، يوناما

"**لومړی ماته راشه**" هغه له يوې هټۍ څخه په سوچه انگليسي ژبه کې غږ کړ. د هغه سترگي په پيريدونکو (مشتريان) ښخې وي، څوک چې له هغو جنسونو سره نا اشنا و لکه د عسکرو خولی يا د ۷۰ کلونو پخواني پلته ييزې ټوپکې او نور.

"زه نن ښې بيې درکوم. له ماسره هر څه شته- ټوپکې، چړې ، مجسمې، حتی زړې پيسې." ده ادامه ورکړه او زما توجه يې ځانته واړوله. گرانه وه چې له هغه ميز څخه سترگې واوړي چې تورې ورباندې ايښې وې، ځينې يې ښکلې شوې، ځينې زنگ وهلې وي چې ښايي يوه پيړی پخوا د عسکرو له خوا ټوټه شوې وي.

کله چې په دې پوه شوم چې زه د ده د وسلو او مهماتو له مجموعې سره مينه نه لرم، ژر يې يو قوطي پرانيست چې د فلزي پيسو څخه ډک وو او مختلف شکلونه يې درلودل.

"دغه يو يې د الکساندر د وخت څخه دی، يوه دانه يې ۴۵ ډالره بيه لري. له ما سره نقره يی پيسې هم شته. په گوته يې کړه چې و يې گورې."

د جمعې ورځې د ماسپښين مهال وو. زه د ايساف د جمعې ورځې په بازار کې ووم چې د کابل په ښار کې جوړيږي. کريم خان (نوم بدل شوی) چې يو فعاله گرځنده پلورونکی وو، بايد په محبس کې وای. او پيسې چې د الکساندر چاپ ورباندې وو، او له دويمې عمومي جگړې ټوپکې او هغه تورې چې غلو يا شهزاده گانو به کارولې بايد د کابل په موزيم کې د هغه د لايق رييس محمد مسعودي تر ساتنې لاندې وای:



"دغسې بازارونه ډير دي. په دغو مارکيټونو کې دکانداران د دې اجازه نامه لري چې لاسي صنايع وپلوري خو دوي د دې په ځای عتيقه ( پخوانی) جنسونه پلوري." دغه خبره مسعودي وکړه چې په لومړي پوړ کې يې لوی دفتر درلود او د افغانستان په هکله  په کتابونو او نقشو باندې ښايسته شوی وو. نوموړی زياته کړه "زما غوښتنه له چارواکو څخه دا ده که چيرې دوي زموږ له هيواد سره مرسته کوي، دې خلکوته بايد اجازه ورنه کړي چې پخواني اثار وپلوري. دغه راز زه له بهرنيانو څخه هيله کوم چې دغه جنسونه وا نه اخلي."

ملي موزيم په کابل کې حتی په رسمي ورځ هم ډير فعاله وي. په پرلپسې ډول کورنی، بهرني خلک، او د هنر زده کوونکی له عکاسی کمرو او کتابچو سره هلته ورځي چې د موزيم په هغو دهليزونو او منزلونو کې ټوليږي چې د افغانستان د تاريخ او فرهنگ په باب اثار په کې ايښودل شوي دي.

خو د بودا له مجسمو، يوناني... يا د اسلامي دورې د خاورينو لوښو په څنگ کې، موزيم دغه راز د نږدې تاريخ ترخه يادونه هم ساتلي دي.

د ملک په اوږده او خونړی کورنی جگړه کې ملي موزيم ډير ځله د لوټمارانو، مرميو او راکټونو تر بريدونو لاندې راغي. طالبانو هم په موزيم حمله کړې ده او د بودا مجسمې يې په باميانو کې ړنگې کړي دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library





مسعودي وويل: "له ۱۹۹۲- ۱۹۹۵ پورې زموږ د ملي هنري اثارو څخه ۷۰ سلنه يې غلا شوي دي. په اټکلي ډول په همدې موده کې د افغانستان د ملي شتمنۍ ۷۰۰۰ ټوټې له موزيم څخه غلا شوې دي. دا يوه غمجنه او وحشتناکه دوره وه."

د دريو لسيزو جګړې او د طالبانو حکومت پای ته رسيدلی دی خو چور چپاول لا اوس هم دوام لري خو په بله بڼه. په هيواد کې د تاريخي اثارو ساحې اوس د قيمتي اثارو د پلټونکو، ليدونکو او ټولوونکو هدف ګرځيدلي دي چې د پخوانيو ابادو ځمکو پلټل يې پيل کړي دي.

مسعودي په دې باوري دی چې د دغو ساحو ساتنه او د هنري اثارو له وتلو څخه مخنيوی کول ګران کار دی چې حکومت اوس ورسره مخامخ دی. "زموږ حکومت په ټول ځواک کوښښ کوي چې د دې کار مخنيوی وکړي، خو حکومت په نورو ستونزو اخته دی او ګرانه ده چې په محدودو ځواکونو او وسيلو سره د دې کار مخنيوی وکړي."

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت مني چې حکومت له دې ستونزې څخه خبر دی او د دې هڅې کوي چې د پخوانيو اثارو ځايونه وساتي، او د هغوی د ساتنې لپاره ساتونکي وګوماري. دغه کار ښې نتيجې ورکړې دي. مسعودي وايي "حکومت اوس ۵۰۰ کسيزه ځانګړې قوه لري چې دغه ساحې وساتي او په دې توانيدلی دی چې په اتو ولايتونو کې د غير قانوني کيندنې کارونه تر ولکې لاندې راولي. خو بيا هم موږ نورو پوليسو ته اړتيا لرو."

خو ايا د دې ساحو ساتنه د پوليسو له خوا د اوږدې مودې د حل يوه لار کيدای شي؟ د ملګرو ملتونو پوهنيز، علمي او کلتوري مرکز (يونسکو) په دې باور دی چې که څه هم د ساتونکو ګومارل د حل يوه لار ده، خو په دې اړه بايد نور زيات کارونه وشي.

په افغانستان کې د دې سازمان مشره شګيرو اويګي وويل: "د فرهنګی ميراث غير قانوني کيندنې، صادرول، او ليږدول زموږ له سترو انديښنو څخه يوه انديښنه ده. د دې کار څخه د مخنيوی لپاره زموږ درې لارې په نظر کې دي: د هغو خلکو د پوهاوي د کچې لوړول چې ساحې ته نږدې اوسي، عملي کارونه، لکه د ساتونکو ګومارل، او دريمه لار دا ده چې نړيواله ټولنه د دې هيواد فرهنګی شتمنۍ ته د درناوي کولو غږ پورته کړي."

يونسکو چې په افغانستان کې له ۲۰۰۲ م راهيسی کار کوي، د نورو برخه والو ترڅنګ د افغانستان د فرهنګی ميراث په ساتلو کې بوخته ده او له ۲۰۰۳ راهيسې يې د هنري ټوټو په راګرځولو کې "لويه ونډه" درلودلې ده. دغه راز، يونسکو د اوږدې مودې اقد امات نيولی دي لکه د باميانو د ساحې په شاوخوا کې د ساتونکو ګومارل، او له افغاني چارواکو سره مرسته کول چې هغه قانوني چوکاټ ته عملي بڼه ورکړي د فرهنګی شتمنۍ د نا قانونه صادرولو او ليږدولو منع کول په هغو تړونونو پورې تړلي دي، چې په وروستيو وختونو کې يې لاسليک کړي دي.

د فرهنګی شتمنيو د نا قانوني واردولو، صادرولو او ليږدولو د منع او مخنيوی کنوانسيون له منلو وروسته (پاريس ۱۹۷۰) افغان حکومت په ۲۰۰۵ کې د دې جوګه شو چې ۸۵۰۰ ټوټې له دنمارک، سويس، ناروې، امريکا او انګلستان څخه بېرته راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ۲۰۰۹ په پیل کې افغان چارواکو یوه بله مهمه بریا هم درلودله کله چې د انګلستان حکومت ۲۰۹۸ ټوټې بېرته ورکړې چې په تیرو دوو کلونو کې د لندن په هیترو هوایي ډګر کې نیول شوې وې. په دې اثارو کې د میزولیتیک، نیولیتکی او اسلامي دورې اثار شامل وو چې ځینې یې (۱۰۰۰۰) کلونه پخوا وخت پورې تړاو لري.

"په لومړی سر کې بریتانیا موږ ته د دې هنري ټوټو انځورونه ولیږل. موږ هغه وپیژندل او د ډیپلوماتیکو چینلونو له لارې مو هغه بېرته وغوښتل، کله چې الوتکه کابل ته ورسیدله او کله چې موږ بکسونه په موزیم کې پرانیستل، دا زما لپاره ډېر د خوشحالی وخت و." دا خبره مسعودي په داسې وخت کې وکړه چې په ویاړ سره یې هغې بېرته راوړل شوې قیمتي شنه لوښي ته اشاره کوله چې په دولسمه پیړۍ پورې یې تړاو درلود او اوس د ننداري لپاره په موزیم کې ایښې دی.

له حکومت سره یو ځای نورو سازمانونو لکه د افغانستان د کلتوري میراث ساتونکې ټولنه چې په ۱۹۹۴ کې د داسې با احساسه اشخاصو له خوا جوړه شوه لکه نانسي دوپري چې هغوي هم د جنسونو په بېرته ورکولو او اخیستلو کې له حکومت سره مرسته کړې ده.




خو افغانستان تر کومه وخته پورې د نورو په سخاوت باندې تکیه کولای شي چې خپل فرهنګ وساتي؟ مسعودي په دې باور دی چې یوازې افغانان کولای شي چې د افغانستان د شتمنیو په ساتلو کې ستره ونډه ولري او هغه د راتلونکو نسلونو لپاره خوندي وساتي. هغه زیاته کړه: "زموږ د خلکو له مرستې پرته به ګرانه وي چې د قاچاق مخه ونیسو. خلک دلته تعلیم نه لري او دوي د هغو جنسونو په ارزښت نه پوهیږي چې دوي یې په قاچاق کې مرسته ورسره کوي. دوي باید د دې له ارزښت څخه خبر شي."

مسعودي یوه قانع کوونکې خبره وکړه. داسې خلک لکه کریم خان چې د کابل د ایساف په بازار کې په غیر قانوني ډول جنسونه پلوري باید تعلیم واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د فرهنگ لپاره د اغا خان پانگه



د فرهنگ لپاره د آغا خان پانگه
ویب پاڼه: www.akdn.org/aktc

له ۲۰۰۸ کال راهیسې د فرهنگ لپاره د آغاخان پانگی د کابل د ښار د تاریخی ځایونو او منظرو د بیا رغونې لپاره یولړ نوښتونه ترسره کړي دي. د دې سربیره چې د ډیرو مهمو لرغونو میراثونو د ساتنې لپاره کار شوې دی، د دغه پانگی د پروگرام موخې دا دي چې د خلکو د ژوند شرایط د کار د تشدیدي لوړتیا د لارې ښه شي او د افغان صنعتکارانو او مسلکي کسانو د مهارتونو د پرمختیا لپاره د اقتصادي چارو د ښه والی مسلې ته پام واړول شي.

تر اوسه پورې، د دي پانگی د ۶۰ تاریخی عامه ځایونو او شخصي ودانیو شخه د زیاتو د بیا ترمیم او بیا ودانی چارې پرمخ بولې دي، چې د بنسټیزو زیربناوو نو کولو سره چې نږدې د ۵۰۰۰۰ شخه د زیاتو کسانو لپاره یې چې په کابل او هرات کې په تاریخي ودانیو کې اوسیږي د کار او گټې د لاسته راوړلو امکانات چمتو کړي دي. د دې سربیره پانگی د افغانستان همکارو موسسو ته تخنیکي مرستې برابروي چې دا د هغو هلو ځلو یوه برخه ده چې د پلانگذارۍ او د ښاري مدیریت د پروسو اغیزمنتیا باوري کړي. د دې یوه ډیره مهمه ساحه دا ده چې د کابل په پوهنتون کې د مسلکي زده کړو ملاتړو کړي.

له ۲۰۰۴ راهیسې د مرکزي آسیا لپاره د اغا خان د موسیقی د هنر د نوښت لاندې په کابل او هرات کې د موسیقی ښوونځي فعال شوي دي چیرته چې د ۱۰۰ شخه زیات زده کوونکو ته د موسیقی د عنعنوي الاتو په برخه کې د موسیقی د هنر د استادانو له خوا زده کړې ورکول کیږي.

په ۲۰۰۹ کې د فرهنگ لپاره د آغا خان پانگی افغان فرهنگي نوښت په لاره واچولو چې موخه یې د هغو کسانو ترمنځ د همکارۍ او همغږۍ راوستل دي چې د عنعنوي مهندسی، لاسي صنعتونو، د ښکلو هنرونو، فولکوریکي موسیقی اوټولنیز تاریخ کې کار کوي.

AGA KHAN TRUST FOR CULTURE

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د فرانسي دلرغون پيژندني پلاوى په افغانستان كى

ډافا (DAFA) په ۱۹۲۲ کې د افغانستان د دولت په غوښتنه جوړ شوی دی، څو په هیواد کې د لرغون پيژندنې څیړنې ترسره کړي. د دوهمې نړیوالې جګړې پرمهال د یو څنډ وروسته د کیندنو چارې د ۱۹۴۶ څخه تر هغه د بندیدو پورې په ۱۹۸۲ کې روانې وې. په ۲۰۰۲ کې د هغې موافقې له مخې چې د اطلاعاتو او کلتور له وزارت او د فرانسې د بهرنیو چارو وزات ترمنځ ترسره شوه د دې پریکړه وکړه چې د ډافا فعالیتونه په افغانستان کې بیا له سره پیل کړي.

د پلاوي موخه دا ده چې د فرانسې- افغان د لرغون پيژندنې د ماموریتونو د لارې د افغانستان د پخوانیو عنعنوی تاریخ په اړه پوهاوي پراخه کړي. په دې کې د لرغوني پاتې شونو د ثبت چارې او د څیړنې د داسې علمي پروګرامونو په چوکاټ کې د حفریاتو او کیندنو د کارونو پرمخ بول دي چې هغه ساحې او ځآیونه وساتل شي چې د غیر قانوني حفریاتو په نتیجه کې اغیزمن شوي دي او یا هم د پرمختیایي پروګرامونو د پلې کولو د لارې تر ګواښ لاندې دي. د ډافا نورې موخې دا دي چې د لرغونو اثارو د مسلکي کسانو روزنه ترسره او د افغانستان د لرغونې میراث تحفظ، بیا راژوندي کول او وده تامین شي.



د دغې موسسې د عملیاتو اساسي ساحه د افغانستان په شمال د بلخ په ولایت کې ده. ډافا په دوو ساحو کې کیندنې کوي (د بلخ په زاړه ښار او چشمه صفا کې چې د بلخ په شمال کې د ۲۰ کلیو میترو په واټن یوه مهمه ساحه ده) چې د اغا خان د فرهنګی پانګی سره په همکارۍ کې کار کوي چې د حاجی پیاده (نوګمبد) د جومات د بیا جوړونې د چارو مطالعه ترسره کړي. ډافا همدارنګه د لرغون پيژندنې د ملي انستیتیوت سره تخنیکي مرستې کوي چې د لوګر د ولایت د مس عینک په سیمه کې د بودایي مرکز کیندنې ترسره شي.

په افغانستان کې د فرانسې د لرغون پيژندنې پلاوي
ویب پاڼه: www.dafa.org.af

# د افغانستان د فرهنګى ميراث د ساتنې ټولنه

په ۱۹۹۴ کې ځینو علاقه مند کسانو د ډلې په نوبښت چې په کې نامتو تاریخ پوه نانسی هاچ دوپری شامله ده د افغانستان د فرهنګی میراث د زیانمنتیا په پوهاوي سره د SPACH ټولنې د دې لپاره کار وکړ څو فرهنګی میراث ته د بیا رغونې د ټول بهیر د هلو ځلو د نه جلا کیدونکی برخې په توګه وده ورکړي. دغه موسسه د افغاني ټولنې سره په همکارۍ کې ملګرتوب وکړ څو خبرتیا او پوهاوی ته د فرهنګی میراث د مرکزي برخې په توګه او دا چې افغاني میراث د سولې په راوستلو کې مهم نقش لوبولی شي، توجه وکړي.

د ۱۹۷۹ کال څخه را په دې خوا د جګړو د پیل څخه اساسي تاریخي آبادات، اثار او لرغونی سیمی ساحې د هیواد په کچه د جګړو، چور او بې پروایي له امله تر ګواښنې لاندې راغلل. دغه تهدید او ګواښ په ۱۹۹۲ کې د کابل د موزیم د لوټولو او ویجاړولو سره خورا زیات شو، او په ۲۰۰۱ کې خپل اوج ته ورسید چې نړیواله ټولنه په بامیانو کې د بودا د مجسمو د الوزولو شاهده وه.

یو له هغو ځانګړو لاملونو څخه چې د افغانستان د فرهنګي میراث د ساتنې د ټولنې بنسټ ایښودونکي یې دې ته متوجه کړل د کابل د موزیم چور او غلا کول وو. د ۱۹۹۴ او ۱۹۹۶ کلونو ترمنځ ټولټال ۴۸ مهم اثار چې د کابل د موزیم څخه غلا شوي و، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت ته ددغې ټولنې له خوا راستانه شول.

SPACH د ۲۰۰۸ کال څخه فعال دی
د افغانستان د فرهنګي میراث د ساتنې د ټولنې ویب پاڼه:
www.spach.info

(c) ketabton.com: The Digital Library



# يونسکو - افغانستان

د ملګرو ملتونو د علمی، تعليمي او کلتوري سازمان په افغانستان کې له ۲۰۰۲ راهيسې کار کوي او د حکومت او د افغاستتان له خلکو سره مرسته کوی چې د بيا رغونې او پرمختګ په لار کې پرتې ستونزې هوارې کړي. د نورو فعاليتونو په څنګ کې يونسکو د دې هيواد د شته من کلتور او تاريخي ميراث په خوندي ساتلو کې هم مصروف دی. د يوناما اديتيا مهتا په افغاستتان کې د يونسکو له مشر شيګرو اوياګی سره د دې سازمان د انديښنو او د راتلونکې لپاره د هغه د پلانونو په باب خبرې کړې دي.

يونسکو د افغانستان د بډايه کتلور او تاريخی ميراث د خوندي ساتلو لپاره څه کوي؟

د يونسکو مرستې له دې هيواد سره د کلتوري او تاريخي ميراث د ساتلو په اړه په دريو برخو کې کيږي. لومړی د موجودو کلتوري ميراثونو ساتنه لکه په باميان، هرات او يا په موزيمونه کی. دويمه برخه د هغو کلتوري ميراثونو ساتنه او غوړونه ده چې موږ د اطلاعاتو اوکلتور له وزارت سره هم کار کوو چې د دې وزارت موسساتي ظرفيت لوړ شي، خاصتا په داسې مهمو برخو کې لکه د يوې هر اړخيزې کلتوري پاليسي طرح کول د دی هيواد لپاره.

افغانستان اوس په داسې مرحله کې دی چې ډيرې پيسې دې هيواد ته راځي چې انکشافي کارونه سرته ورسيږي، په هر ځای کې سرکونه جوړيږي، تعميرونه راپور ته کيږي. د ښارونو د پرمختيای کارونو يوه منفي جنبه دا ده چې په دې ترڅ د تاريخي ځايونو د ساتنې په وړاندې ستونزی پيدا کوي. تاسې له دې څخه انديښمن ياست؟ څرنګه کولای شي دغه دواړه کارونه سره همغږي کړئ؟

يو ډير شمير کلتوري ساحې له پرمختيايي کارونو څخه اغيزمنې شوې دي، لکه د جام منار، د هرات زوړ ښار. د سرکونو د جوړولو له امله او دا حقيقت چې د کلتوري پاليسي مراعات نه کيږي، ځينې زيانونه اوس څرګند شوي دي. يونسکو هڅه کوي چې څنګه وکولای شي هغې موافقې ته احترام وشي چې له حکومت سره د دې شتمن کلتوري ميراث د خوندي ساتلو به اړوند لاسليک شوی دی.
د هرات په برخه کې موږ له والی او له محلي حکومت سره ډيرې ښې جلسې درلودې او دوی موږ ته د دې ژمنه راکړه چې دغې موافقې ته عملي بڼه ورکړي او تاريخي ميراثونه وساتي. البته موږ به دې پوهيږو چې پرمختيای کارونه ضروری دي او ممکنه نه ده چې هغه هېر شي. مګر موږ په دې هم بوهيږو چې پرمختيا او ميراث بايد دواړه څنګ په څنګ وساتل شي او يو بل سره بشپړ کړي. د مثال په ډول، په باميان کې چيرې چې په تيرووختونو کې ډير زيانونه رسيدلی دی، انکشافي کارونه روان دي. کله چې يو ځلې په دې هيواد کې سوله ټينګه شي، باميان کولای شي د دې هيواد په پراختيا کې د توريزم د پراختيا او د لاسي صنعت د پرمختګ له لارې لويه ونډه واخلي. دغه اړخونه د پرمختيا له نظره هم د اهميت وړ دي. په بله ژبه، کلتوري ميراث د هيواد په پراختيا کې هم نقش لري.

د لاسي صنعت د محصولاتو قاچاق چې له افغانستان څخه بهر وړل کيږی يوه لويه ستونزه ده. ايا د دې کار د مخنيوی لپاره کافي کار کيږي؟

د کلتوري ميراثونو ناقانونه کيندنی، صادرول او ليږدول د يونسکو له لويو انديښنو څخه دی. د ناقانونه کېندنو او صادرولو په اړه دوه تړونونه لاسليک شوې دي. موږ هڅه کوو چې څنګه کولای شو دغه قانوني چوکاټ د حکومت په مرسته نافذ کړو.

په کابل کې د يونسکو دفتر د ۲۰۰۲ کال په جون کې جوړ شو څو د هغو ساختماني چارو په برخه کې مرسته وکړي چې د ملګرو ملتونو او د نړيوالې ټولنې له خوا يې مسووليت اخيستل شوی دی. يونسکو د ملګرو ملتونو يوه اختصاصي موسسه ده چې په افغانستان کې د سولې او ټيکاو لپاره د معارف، علومو، فرهنګ او مخابرا تو د هر اړخيزو پروګرامونو د لارې د سولې بنسټونه کښيږدي.

د دې پروګرام د يوې برخې په توګه د کابل د دفتر د فرهنګ ځآنګه لا زيات د افغانستان د قابل لمس او غير قابل لمس کيدونکې فرهنګي ميراث د فرهنګي تنوع او بشري حقونو د ودې لپاره په مستقيم ډول د تحفظ او ساتنې په چارو تمرکز کوي.

يونسکو همدا اوس د فرهنګي پرمختيا پروژې د اطلاعاتو او فرهنګ د وزارت سره د افغانستان په بيلا بيلو ولايتونو کې پلې کوي او همدارنګه د فرهنګي ميراث د ودې د فرهنګې پاليسيو د پرمختيايی، موسساتي همکاريو او د دې سکتور د څواکمنتيا لپاره د کنوانسيونونو د تطبيق پراخه پروګرامونه پرمخ بيايي.

په دغو فعاليتونو کې د افغانستان د نړيوالو ميراثونو د ساحو لکه د جام منار او د باميانو ساحه، په هرات کې د ګوهر شاد بيګم مقبره، په غزني کې د عبد الرزاق مقبره د ساتنې او پرمختيا *نوښتونه*، د ملي موزيم او سيمه ييزو موزيمونو بيا رغونه، او فرهنګي ميراثونو لپاره په بيلا بيلو مضمونو کې د متخصصانو روزنه هغه څه دي چې په نورو پروژو او فعاليتونو کې شامل دي.

**د ملګرو ملتونو تعليمي، علمي او فرهنګی سازمان (يونسکو)**
**ويب پاڼه: www.unesco.org**

UNESCO
United Nations
Educational, Scientific and
Cultural Organization

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ همدارنګه د دې هڅه کوو چې په خپله هم اقدام وکړو، د مثال په ډول موږ د بامیانو په کلتوري ساحه کې اتیا تنه امنیتي کسان ګمارلي دي، د ناقونه کیندنو د مخنیوی لپاره کافی امنیتي تیاری نشته. له بهر څخه او حتی له داخل څخه هم خلک په داسې نا قانونه فعالیتونو کې لاس لري. د دې فعلایتونو د مخنیوی لپاره موږ درې لارې په نظر کې نیولې دي. د ساحو په شاوخوا کې اوسیدونکو خلکو د خبرتیا لوړول، عملي کارونه لکه د ساتونکو ګمارل او دریمه لار يې د بین المللی ټولنې د اواز جګول دي چې د دې هیواد بډای کلتوری میراث وساتي. ناقانونه کارونه (غیر قانوني حفریات او نور) ډیرې ژورې ريښې لري. په دې پوهیدل ګران دي چې څوک په دې کارونو کې لګیا دي.

فکر کوئ چې افغانان دې ته اړتیا لري چې د خپل کلتور څخه زیاته خبرتیا ولري؟ دا یوه لار ده چې خلک هغه څه چې د دوی په هیواد کلتوري اثار وساتي.

هو دغه په ریښتیا یوه ډیره مهمه جنبه ده. بین المللی خبری رسنۍ نن ورځ ټاکنې او امنیتي مسالې تر پوښښ لاندې راولي. دغسې مسالې همیشه موجودې وي او په اساني سره پیدا کیږي. مګر پخپله دغه هیواد باید یو مثبت پیغام ولیږي څو دنیا ته خپل شتمن تاریخ او کلتور وپیژني. دا د دې هیواد د راتلونکی پرمختیا لپاره یو مهم جز دی. بین المللی ټولنه د دې اندیښنه لري چې څنګه کولای شي بیړنی مرستې ورسوي. مګر په عین وخت کې افغانستان باید په خپل څرګند او نا څرګند کلتوري میراث باندې و ویاړي.

کولای شي موږ ته د هغو پروژو په اړه څه ووایې چې تاسې يې ډیر ګټورې ګڼئ؟

د بامیانو د ساتنې لپاره ډیرې پیسې خرڅې شوي دي. موږ له ۲۰۰۲ څخه راهیسې نږدې ۵ میلیونه ډالر مصرف کړی دي. موږ اوس په دریمه مرحله کې یو. د ایټالیا، جاپان او جرمني کارپوهان د یونسکو ترهمغږی لاندې له وزارت سره کار کوي. بله تاریخي ساحه چې نړیوال اهمیت لري، جام منار دی. کار باید ادامه پیدا کړي، مګر د امنیتي او لوژیستکي ستونزو له امله موږ د کار د اوسنۍ کچې څخه راضي نه یو.

ادیتا مهتا، یوناما
یونسکو، افغانستان
www.unesco.org/kabul

# افغانستان او د ابریشم لار: د نړۍ د سوداګرۍ مرکز

بیجان عمراني



لویدیځې نړۍ اکثرا د اسیا او شرقي هیوادونو په باب داسې عقیده درلوده چې دغه ځمکې ابادې او له نعمتونو څه ډکې وې. په ۱۹ پیړۍ کې یوه شاعر، ایلرونکې فلیکر دغه نظر داسې توضیح کړی دی چې د ختیځ په لورې لار يې "طلایې لار" بللې ده.

که څه هم ښایې لویدیځه نړۍ د افغانستان په اړه په اوسنی حالت کې داسې نظر ونلري، خو په تیرو څو سوه بلکه په زرهاوو کلونو په لویدیځ کې عمومي نظریه دا وه چې په ختیځ (او افغانستان) کې ډیره شتمني شته. دغه نظریه په رښتیا هم سمه وه. اروپا څو سوه کاله، د نړۍ په کچه یوه داسې سیمه وه چې غربت پکې و او بې ارزښته وه، او ختیځ د پریمانی سیمه وه چې د دنیا دلوړې کچې سوداګري او علمي لاس ته راوړنې يې درلودې او د افغانستان نقش په دې برخه کې مخکښ و.

د افغانستان جغرافیایي موقعیت هغه ته ډېر ګټور دی. افغانستان د مرکزي اسیا په زړه کې واقع دی، او د پخوانی زماني د سوداګرۍ په لار کې يې یو مرکزي موقعیت درلود، چې د ابریشم د لارې په نوم یاد شوی دی او د اسیا هرې برخې ته غځیدلې وه. ځینې يې د ختیځ په لورې چین ته، ځینې يې د شمال په لورې بخارا سمرقند او خیوې او له هغه ځایه د کوچیانو دښتو ته ځینې يې د جنوب په لورې هند ته او نورې يې د لویدیځ پله لورې ایران ته او له هغه ځایه د مدیترانې بحر او اروپا ته غځیدلې وې. مالونه چې هر ځای ته وړل کېدل، باید له افغانستان څخه تېر شوی وی. په دې ډول هغه افغاني ښارونه چې په دې ستراتیژیکه لیکه کې پراته وو کولای شوای چې له سوداګیرې څخه ډیره ګټه پورته کړي.

د نړۍ په سوداګري باندې د افغانستان اغیزه ډیر پخوانی تاریخ لري. د مثال په توګه د مصر د فرعونانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جنازې په معروفه چپنه کې د لاجورد غمي د افغانستان له بدخشان څخه په ۱۳۰۰ له زېږدیز څخه مخکې صادر شوي دي. له دې څخه پخوا په ۲۵۰۰ له میلاد څخه مخکې د لاجوردو غمي له افغانستان څخه عراق ته صادر شوي چې د پخواني ښار او د پاچا سره به په قبر کې د موسیقۍ له آلې سره یو ځای خښېدل. د دغو ځینې نمونې د بریتانیې په موزیم کې لیدل کېږي. له دې څخه معلومیږي چې د سوداګرۍ لارې تر کومو ځاینو غځېدلې وې او څومره موده یې دوام کړی دی.

له میلاد څخه مخکې په دویمه پیړۍ کې ښکاره وه چې د سوداګیرۍ لارې چین ته هم رسیدلې وې. په ۱۳۰ کال کې له میلاد څخه پخوا چینایي سیاح ژانګ کیان چې د چین د امپراطور له خوا رالیږل شوی و د افغانستان په شمال کې په بلخ کې له اوسیدونکو خلکو سره رابطه ټینګه کړه. ده وموندله چې دغه خلک "ځیرک سوداګر" دي او بلخ "داسې بازارونه درلودل چې هر راز سوداګریز توکې په کې پلورل کیدل". د ژانګ کیان له ماموریت څخه لږ موده وروسته د سوداګرو هیئتونه په منظم ډول له چین څخه د روم د امپراطورۍ په لورې په خوځښت کې وو او د ابریشم لار په پوره ډول فعاله شوه.

د ابریشم لار د میلاد څخه یوه پیړۍ مخکې بیا تر میلاد وروسته تر دریمې پیړۍ پورې په پوره قوت فعاله وه. به دې موده کې د افغانستان په خاوره د کوشانیانو ولکه وه، چې نه یوازې اوسنی افغانستان، بلکه د پاکستان، تاجکستان او ازبکستان ځینې برخې یې هم تر کنترول لاندې وې. د کوشانیانو تر لاس لاندې په لویه کچه سوداګیرې کېدله، له چین څخه وریښم، له بدخشان څخه لاجورد او لعل، له هند څخه مسالې، عاج او د اوبدلو جنسونه، د پارس له امپراطورۍ څخه وریښمن کالي، او د روم له امپراطورۍ څخه تیار جوړ شوي جنسونه لکه طلا، جوړ شوي غمي، د ښیښې ګیلاسونه، امبر، تیار کالي او مجسمې به راوړل کېدل.

د کوشانیانو د دورې ځینې مهمې شتمنۍ په افغانستان کې په ۱۹۳۷ کې هغه مهال پیدا شوې، کله چې بګرام ته نږدې په کاپیسا کې چې د کوشانیانو د اوړي د موسم پایتخت راوکندل شو. سوداګریزې توکې چې کشف شوې وو داسې اجناس په کې شامل و، چې د تولې پخوانۍ نړۍ څخه راتلل: له مصر او سوریې څخه داسې ګیلاسي ګلدانۍ وې چې ډیرې ښې رنګیدلې وې، له هند څخه عاج چې ډیر په مهارت سره ګندل شوي او حتی د رومي او یوناني خدایانو مجسمې موجودې وې چې له ایټالیا څخه راوړل شوې وې. ددغو اجناسو اندازه او د دوی تنوع به دې وخت کې نه یوازې افغانستان د سوکالۍ نښانې ورکوي، بلکه دا هم څرګندوي چې دغه هیواد له کومو لرې پرتو هیوادونو سره اړیکې درلودې.

د ابریشم لار نه یوازې د شتمنۍ او د عالي جنسونو د سوداګرۍ له امله مهمه وه، بلکې دغه لار دغه راز د نظریاتو د تبادلې او انتقال له ا مله هم د اهمیت وړ وه.

شاعر جیمز ایلروی فلیکر چې د یوه داسې سوداګر انځور وباسي چې د ابریشم د لارې تکل یې کړی دی وایې چې دې د ختیځ په لوری د دې لپاره په سفر نه ځي چې پیسې لاس ته راوړي، بلکه ده "د علم او پوهې سره مینه درلوده" دینونه لکه بودیزم د سوداګرو او ابریشم د لارې د دې لارې د مسافرینو دین و. د افغانستان د ځینو مهمو پیښو بیانونه له اتمې پیړۍ څخه مخکې د چینایي مسافرینو له خوا ورکړل شوي دي، چې هندوستان ته د افغانستان له لارې د بودیزم د اثارو لپاره تلل. په افغانستان کې دغو مسافرینو او سوداګرو چې له دې لارې به تېریدل او له مختلفو ځاینونو څخه راتلل مختلفې نظریې سره ګډولې او له زړو نظریو څخه په دې ډول نوې هغې راووتلې. په بامیانو کې د بودا مجسمې چې اوس ړنګې شوې دي د دې خبرې ښه ثبوت ورکوي د بودا دغه مجسمې د یوناني هنر او د هند د مذهبي او هنري مفکورو یوه نمونه وه، چې په افغانستان کې د کوشانیانو په دوره کې جوړې شوې وې.



(c) ketabton.com: The Digital Library




دغه راز، اسلام هم چې افغانستان ته په اتمه پېړۍ کې راغلې دی له همدې لارې را رسېدلی دی چې سوداګرو به پرې تګ راتګ کاوه او ډېر زیارتونه، د دوي جوړښت او په ځینو مواردو کې د دوي رسوم او عادتونه ښايي چې له نورو مذهبي مفکورو سره د یو ځای کېدو په ذریعه د اسلام له خوا منل شوي او خپل شوي وي.

د کوشانیانو له دورې وروسته د سوداګرو شبکه له ستونزو سره مخامخ شوې ده. په دې وختونو په بې نظمۍ کې و چې د میلاد په څلورمه او شپږمه پېړۍ کې امپراطورۍ په افغانستان کې له پرزیدو سره مخامخ شوې څکه چې هغه عایدات چې د سوداګرۍ له لارې دوي ته راتلل محدود شول. دغه راز کله چې تجارت وده کړې ده امپراطورۍ هم ورسره غوړېدلې ده. ددې یوه ډېره ښه او ورستی نمونه په افغانستان کې د تیموریانو امپراطورۍ (۱۴- ۱۶ پېړۍ) وه کله چې د سوداګرو په مخ لویدیځ او چین ته لارې پرانیستل شوې.

دا هغه وخت و چې ځینې لوې اسلامي مانۍ ودانې شوې دی، د مثال په ډول په هرات کې سوساله، او د اسلامي نړۍ لویو لیکونکو لکه جامي دلته کار کاوه، خو باید وویل شي چې دغه اسلامي مانۍ په دې وخت کې د سوداګریزو اجناسو او نویو مفکورو د راتګ په نتیجه کې جوړې شوې وې او چینایي طرز په هغو کې لیدل کېږي او په اسلامي قانون کې د مغولو قانوني نظریې ځای شوې دي.

د ابریشم لار په ۱۵ او ۱۶ پېړیو کې ودریده کله چې بحري تکنالوژي پرمختګ وکړ، په دې ذریعه ډېره اسانه شوه چې سوداګریز جنسونه په ټوله نړۍ کې د وچې له لارې نه بلکه د بحر له لارې ولېږدول شي. کله چې بحري لارې پرانیستل شوې او د ښه کیفیت مالونه له دې لارې لېږدل پیل شول د افغانستان پاچاهي د خپلو عایداتو یوه مهمه سرچینه له لاسه ورکړه. خو سره له دې هم د ابریشم د لارې ځینې اثار لا اوس هم په افغانستان کې وینو. په لارۍ موټرو کې چې د پېښور او جلال آباد تر منځ ځي راځي هغه رنګونه او نخښې نښانې پرې لیدل کېږي طلسمانو یو عصري شکل دی چې کاروانونو به د افتونو د دفاع په نیت کارول. د ابریشم د لارې ځینې عادتونه لکه په لار کې په زیارتونو د کالیو ټوټې پرېښودل لا تر اوسه هم رواج لري، او د افغاني کلتور یوه مهمه برخ یانې د مېلمه پالنې دود د ابریشم دلارې د هغو پر تیمنو ورځو اثار دي کله چې به سوداګرو ته له نورو هیوادونو څخه ښه راغلاست ویل کېده، څکه چې دوي به نه یوازې شتمنې راوړه، بلکه له ځانه سره به یې نوې عقیدې رالیږدولې.


**بیجان عمراني په افغانستان باندې ډېرې لیکنې کړې دی لکه، افغانستان: یوه مقدمه او لارښود، چاپ، د ده نوی کتاب، د اسیا وچه: د ابریشم د لارې او د سايبيريا په باب د مسافرينو کيسې. د ۲۰۱۰ په اپریل کې به چاپ شي. دې د شاهي جغرافيايي ټولنې او شاهي اسيايي ټولنې کارمند دی او د اسیا د چارو د ژورنال په مديره هيئت کې شامل دی. اوس دې په انګلستان کې د ایتون په کالج کې استاد دی.**



(c) ketabton.com: The Digital Library

# AFGHAN UPDATE

Afghan Update February 2010, No.22



**Exploring Afghanistan's history**

**Challenges ahead for heritage**

**Stop the smuggling: The fight against looting the past**

**Roads in Afghanistan's past and future**

A UNAMA Publication

(c) ketabton.com: The Digital Library

**AFGHAN UPDATE is published by UNAMA's Strategic Communication and Spokespersons Unit.**

The United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA) was established on 28 March 2002 through United Nations Security Council Resolution 1401. UNAMA's key role is to promote peace and stability in Afghanistan by leading the efforts of the international community. Together with the Government of Afghanistan, the Mission supports the rebuilding of the country and the strengthening of the foundations of peace and a constitutional democracy.

Website: www.unama.unmissions.org



# Afghan Update

Afghan Update February 2010, No.22

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**